




ننګرهار ميديوتيک ( رسنيز کور)
د نشر نيټه : ۱۹ نوامبر ۲۰۱۲ ميلادی

# ۱۲ تنو خبریالانو ته د انلاین ژورنالیزم زده کړې ورکړل شوې






ننګرهارميديوتيک (رسنيز کور) د ۲۰۱۲ کال د نومبر مياشتي په ۱۸ مه نيټه د ((انلاين ژورناليزم)) ترعنوان لاندې دوه ورځنی ورکشاپ جوړ کړی و، چې د بيلابيلو رسنيو څخه ۱۲ تنو ځوانو ژورنالستانو په کې ګډون کړی و.

په پيل کې د ننګرهار پوهنتون استاد پوهنيار محمد داود « وفا » د ننګرهار رسنيز کور په استازۍ لنډه وينا واوروله، ده درسنيزکورد فعاليتونو او ورکشاپ په اجندا خبرې وکړې.
په دغه ورکشاپ کې د ننګرهار پوهنتون د ژبو ادبياتو د پوهنځي استاد شمس الرحمن« عادل» له خوا په نظري او تيوريکي شکل ګډونوالو ته لکچر ورکړل شو.
د ورکشاپ په دويمه ورځ صيام الدين « پسرلي » چې دغه برخه کې په کافي اندازه تجربه لري په عملي ډول ګډونوالو ته معلومات وړاندې کړل:





**(( دا چې انلاین ژورنالیزم  په افغانستان کې یوه نوې  پدیده ده، ډېری ژورنالستان له دغې موضوع سره اشنا نه دي،  له بلې خوا ددې موضوع ضرورت  هم ډېر احساسیږي؛ نو ننګرهار رسنیز کور چې د فعالیتونو له جملې څخه یو د ځوانو ژورنالستانو روزل دي، دغه ورکشاپ یې رابللی و.))**





**ننګرهار میدیوتیک له ۲۰۰۸ کال را په د بخوا په سیمه کې د رسنیو د پیاوړتیا او پراختیا په موخه وخت نا وخت ورته پروګرامونه جوړ کړي دي.**

**په درنښت**
**ننګرهار رسنیز کور**

**بازګشت به صفحه اصلی  –  [www.said-afghani.org](http://www.said-afghani.org)**